# د قام اعتماد او اعتبار

خان زمان کاکړ

د بونېر د ضمني الېکشن نتائجو د قامي مخالفینو هغه دسیسې او توطیې د خاورو سره ور خاورې کړې چې ګویا قام پرست سیاست د خپل واک په جریان کښې پښتانهٔ مایوس کړي دي او مذهبي سیاست بېرته د خپل پوره قوت سره د خلقو په زړونو واکمن شوے دے. پښتنو ثابته کړه چې نور هغوي هم خپل رښتیني امانتګر پېژني او هم خپل لستوڼي او هم په لستوڼو کښې ماران.

د پاکستان ټولو ښي لاسو ګوندونو او مېډیا پوره زیار ویوست چې نتائج د قام پرست سیاست په ضد راولي او هم خپله هغه پخوانۍ سندره زمزمه کړي چې دا د قام پرستو د غلطو پالیسیو عکس العمل دے. مګر قام جاهل ونهٔ ختو بلکې د سیاسي دانش له لارې ئې مدبرانه فېصله ورکړه. د امن و امان د انتهائي خراب صورتحال د راپېدا کولو باوجود د خلقو د سیاسي فهم لمن له لاسه ورنهٔ کړه. د بونېر د ضمني الېکشن په حواله په سیاسي منظرنامه کښې فعال کردارونه له زیاتو سازشي حربو نه برخمن وو. د بائیکاټ پاتا ماتول او په سیاسي ګټو جوړه کړې هره بې شرمي روا ګرځېدلې وه. برعکس اې این پي یواځې پر خلقو د اعتماد عمل جاري ساتلے ؤ.

هر وخت د خلقو په اعتماد برخمنو سیاستونو تاریخونه رغولي دي، هم دا خلق دي چې په خپله خوښه خپل برخلیک ټاکي او بدلون ته لار باسي. پښتانهٔ باچا خان تحریک سره ګنډلي دي. د بین الاقوامي نظریاتي تضادونو او ریاستي استبدادونو باوجود له دې تحریک سره د پښتنو رشته مستحکمه او مستقله پاتې شوه. نن هم دا د پښتنو په وړاندې د سر د بقاء د مبارزې یواځینۍ اسره او سهاره ده. په مزاحمتي دورونو او هم په پارلیماني تناظر کښې پښتنو له خپل دې تحریک سره تړون برقرار ساتلے او خپل نجات دهنده ئې ګڼلے دے. د قامي دښمن او مستبدې ریاستي مشینرۍ ټل دا کوشش پاتے شوے دے چې د دې تحریک او پښتنو ترمنځ بېګانګي راپېدا کړي. ریاست د خپلو پټو کردارونو په توسط هر وخت د پښتنو او قامي سیاست ترمنځ فاصلې پراخول غوښتي دي. د یو مرکز تصور شنډول، په جنوب او شمال وېشل او عقیدوي چوربازاري دود کول د زرغون پوښو مهم اهداف پامېږي. د پاکستان په ټوله سابقه کښې د اسټېبلشمنټ د تالي څټو سیاستونو انرجي د پښتنو د قامي سیاست پر فلج کولو مصرف شوې ده خو ولې د دې ټولو بدخوندیو باوجود د پښتنو د خپلې قامي رهبرۍ سره د تړون

او رشتي اظهار کړے دے او هم دې عمل مخالفين فکري استبدادونو ته پارولي دي.

د بونېر د الېکشن د نتائجو د راتلو نه وروستو سمدستي په دې بله ورځ د شهيد عالمزېب خان المناکه پېښه چا ته څۀ پېغام ورکول وو؟ ګويا استبدادګرو سګنل ورکړو چې هغوي د خلقو په اعتماد برخمن په تشدد هم آراموليے شي.

دا مهال حساسو ذهنونو په ښه توګه درک کړه چې ښي لاسي سياسي مخالفين او مذهبي تند لاري د يوې شريکې ايجنډې لاندې هم يوه نخښه ولې. ګويا ښي لاسے سياست او استخباراتي رياست يو او بل ته ورغاړه وتي دي. حقيقت هم دا دے، ځکه چې اکثره ناخوالي او نادودي د کرفيو په دوران کښې تر سترګو شوي دي. د حېرت دا مقام وګوره د قام رښتيني امانتګر د واک او حکومت لرلو باوجود د جلسې جلوس د توانه لوېدلي برعکس جماعت اسلامي او اې پي ډي ايم هم جلسه کولې شي او هم جلوس اېستے شي. د حکومتي واک او اختيار باوجود پر مېډيا د بونېر د ضمني الېکشن تاريخي نتائجو ته هېڅ ځائے ورنۀ کړل شو، مګر د هم دې نتائجو په ضد د جماعت اسلامي نمائشي احتجاج ته د مېډيا لوئے کوربج ور په برخه شو او هم ئې د سياسي مبصرينو پاملرنه ځان ته جلب کړه. دې اخلاقي جرم ته چا هم پام وانۀ ړاوه چې د ججانو په تودو محفلونو کښې د بائيکاټ په راګ کښې د تودو سندرو زمزمه کولو نه پس په يو ضمني الېکشن کښې د دومره بې شرميو ضرورت څۀ وُ؟ د اې پي ډي ايم لوئے کټ هم هېڅ رد عمل ونۀ ښودلو ځکه چې دا هر څۀ هم د دوي د منشا لاندې کېدل. د

عوامي اقتدار مخه نيول او پوځ ته د مداخلت زمينه مساعدول د دوي له بنيادي ترجيحاتو شمېرل کېږي. هم د خپلو له خُلو نه مې په اردو اجرتي اخبارونو کښې لوستي دي "په پښتونخوا کښې د



اروابناد متين خان

حکومت په نوم څۀ څيز نشته" مطلب يا خو دې پوځ د حکومتي واګو د سمبالولو تابيا وکړي او يا دې تهيوکرېسي ته واک وسپارل شي. بل متبادل په نظر نۀ راځي. دا د پاکستان د سياست معيار پاتې شوے دے، پوځ په پوره سکون اوړدې واکمنۍ کوي او په باعزته توګه رخصتېږي. خو کله چې عوامي تحريکونو ته واک په لاس ورشي، سمدستي د حکومت ناکام او د نوو انتخاباتو د مطالبې سرودونه پورته شي. د استخباراتي سياسي ګوندونو په سينه کښې پروت مارشل زړۀ پر جمهوري رويو مسلسل کودتا کوي. په هم دې ډول د قامي نابرابريو خرمستي هم د سياسي منظرنامې په ناآراميو کښې پراخه ونډه لري. ښخي په ډاډ سره



وئیل کېدے شي چې دا نن په سیاسي منظرنامه کښې کوم مزاحمت او رد عمل تر سترګو کېږي، دا عوامي او سیاسي نهٔ بلکې د یوې پنجابي اشرافیې کردار دے. یوائېنے مقصد د عوامي اقتدار او وړو صوبو د واکمنۍ مخه نیول دي. نور د عدلیې د تقدس د بحالۍ او جمهوریت د بالادستۍ هېڅ خبره نشته. د فرح ډوګر د پرچې اضافي نمبرې خو د دې ملک مستقبل په تورو تیارو کښې غورځوي او د انصاف دروازې ترې خو د سوات په سلګونو بند سکولونه د دې ملک د ناکامۍ او کامیابۍ سره هېڅ تعلق نهٔ لري.

څومره چې په فطري، فلکیاتي، تاریخي او جغرافیائي توګه سره بېل یو، هم هغومره په سیاسي او ریاستي چارو کښې هم لوئے بېلتون لرو. د دنیا په هر ډګر کښې تنها او بې وسه یو. د اې این پي نه سبوا مو چا ته هم سترګې نهٔ اوړي. نور "ما چې به دلته په چا ناز کاوهٔ هغو وسومه" چا مې راسره بدمرغۍ او بدبختۍ ونهٔ ژړلې، "خپلو" هم هېڅ رانهٔ کړل، د عالمزېب خان په المناک مرګ ئې هډو یو تعزیتي بیان هم رانهٔ غلو. دوي قامي غمیزې نهٔ بلکې ججان مهم ګرځولي دي. ژور نظر لرونکي پوهېږي چې د پښتنو د مترقي نېشنل ازم په ضد سیاسي او استخباراتي یرغلګر جرګه شوي دي. افراسیاب خټک رښتیا وائي "د [illegible] شول". دروېش درانے رایاد شو:

عالمزېب شهید

دا دوه لاسونه نهٔ دي چې یارانو سره ورکړل
دروېشه د لستوني دوه ماران سره یو ځائے شول

د بونېر د ضمني الېکشن نتائجو د عامو انتخاباتو پر موقعه د ترهګرۍ او انتها پسندۍ په ضد د ورکړے شوي مېنډېټ تاثر نور هم پوخ کړو. پښتنو ټولې دنیا ته پېغام ورکړو چې هغوي د حکومت نه وړاندې هم د امن دوستو ملګري وو او نن په حکومت کښې هم د امن دوستو په شا ولاړ دي.

اوسني حالات کهٔ هر څو د اطمینان باعث نهٔ دي خو ولې بیا هم دل برداشته کېدل پکار نهٔ دي. د دفاع کوم رسپانس چې موجود دے، پر پراخو بنیادونو د دې مرسته پکار ده. تر ټولو زیات کوشش به دا پکار وي چې د قیادت ستونزه راپېدا نهٔ شي. د افغانستان دېرش کلنه تجربه باید چې په مخ کښې کېښودل شي. پښتنو ته په پام پام او په سنجیده بنیادونو مخ په وړاندې تګ پکار دے، نور د تېروتنو د تکرار ګنجائش نشته.

اې این پي نن په پوره خلوص او قوت سره د پښتنو د سر د بقاء جنګ کوي. ښائي هم دا ئې د منصبي فریضې د ترسره کولو او د تاریخ رغولو پړاو وي، مخ په وړاندې لا ډېر لوئے سفر پروت دے. په ورو ورو به ورباندې خېژو، د تادۍ نه به کار نهٔ اخلو، په مجموعي توګه پښتنو ته د دې حقیقت ادراک پکار دے، چې نن د ټول قام د بچاؤ هیله د باچا خان په تحریک پورې غوټه ده. د قام رښتیني امانتګر کهٔ په غرونو کښې وي او کهٔ په پارلېمان کښې خپله منصبي فریضه په ایمانداري او

دیانتداري ترسره کوي، ځکه خو پښتانهٔ دا تحریک خپل ګڼي او په دې یقین ملګرتیا ورسره کوي چې:

هسې په دې لار په تینـد کونو بانـدې تلمـه
دا لار د جانـان سـترګو تـه نېغـه رسـېدلې وه